**بسم الله الرحمن الرحیم**

# هر څوک باید له خپل وس سره سم په دعوت کې ونډه واخلي

(ژباړه)

امیر الحاج جب ته:

**پوښتنه:**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، ښاغلی امیر صاحب! د دولت د تاسیس لپاره زه د خپل رول په اړه پوښتنه لرم، په داسې حال کې چې زه د دې کار لپاره کومه ځانګړې وړتیا نه لرم؟

زه ستاسو د ځواب په تمه یم.

زه له تاسو لارښوونه غواړم ځکه چې د دې موضوع په تړاو ګډوډ یم، زه نه پوهېږم چې زه څوک یم او په الله سبحانه وتعالی قسم چې په دې کار کې خپله ونډه نه را مالومېږي؟

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

زما وروره، الله سبحانه وتعالی یو نفس د ده له وس څخه په پورته شي نه مکلفوي. خلک د وړتیاوو، په دعوتي چارو کې د پوهې او د دعوت په لېږد کې د بېلابېلو مهارتونو د لرلو له امله یو له بل څخه بېل ظرفیتونه لري. همدارنګه دوی په زده کړه، فکري وړتیا او موضوعاتو په ارایه کولو کې یو له بل سره توپیر لري. همدا راز د قران او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو د علم له مخې انسانان یو له بل سره توپیر لري... دا هغه شیان دي چې د انسانانو ترمنځ دي او د تکلیف ادایه د وړتیا له مخې ده. دا د قران کریم په ایتونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې څرګنده شوې ده. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿**لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا**﴾ [البقرة:۲۸٦]

***ژباړه:*** *الله تعالی یو نفس د هغه له وس سره سم مکلفوي.*

بل ځای الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿**لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا**﴾ [الطلاق: ۷]

***ژباړه:*** *الله هېڅ یو نفس نه مکلف کوي مګر هومره چې ده ته یې (وس) ورکړی دی.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

«**لَا تَحْقِرَنَّ مِنْ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ**» (مسلم)

***ژباړه:*** *له هېڅ نېک کار څخه مخ مه اړوه، که څه هم ډېر کوچنی وي، ان که له خپل ورور سره په ورین تندي لیدل وي.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

«**بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً**» [بخاري]

***ژباړه:*** *زما له لوري يې ورسوئ که څه هم د قران يو ايت وي.*

له زيد ابن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا حَدِيثًا فَحَفِظَهُ فَبَلَّغَهُ، فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ لَيْسَ بِفَقِيهٍ»**

***ژباړه:*** *الله تعالی دې هغه سړي ته خير ورکړي، چې له موږ څخه يوه خبره واوري، له ځان سره يې حفظ کړي او نورو ته يې ورسوي. ډېری وخت يو دعوتگر هغه چا ته دعوت کوي، چې هغه تر ده زيات پوه وي او ډېر وخت يو دعوتگر له خپل دعوت سره بلدتيا نه لري.* (د طبراني په الکبير کې ياده موضوع بيان شوې ده)

نو زما وروره، ته په نيکۍ سره امر کوه او تر خپله وسه د بدۍ مخه نيسه. ته کولای شې يو يا دوه ايته چا ته ورسوې. دا دې ته اړتيا نه لري چې ته دې خامخا بايد د قران کريم حافظ وې او يا دې حديثونه په ياد وي، ترڅو په نېکۍ امر وکړې او له بديو منعه وکړې. ته دا کار له خپل وس سره سم ترسره کوه او له الله سبحانه وتعالی څخه د مرستې غوښتنه کوه. دغه راز پر الله سبحانه وتعالی باور ولره. الله سبحانه وتعالی د صالحينو مل دی.

**ستاسې ورور عطا بن خليل ابو الرشته**

**۱۴۴۱ هـ.ق د رمضان ۲۴ مه**

**۲۰۲۰ م د مې ۵ مه**

**ژباړن: صديق احمدزی**